د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه

Universal Declaration of Human Rights

Ziviler Friedensdienst
Civil Peace Service
We don t shy away from conflict.

ISBN 978-9936-633-53-7

افغانیک

ژباړن ډاکټر یحیی وردک

Translator Dr Yahya Wardak

Afghanic

د بشر د حقوقو
نړیواله
اعلامیه

ژباړه یحیی وردګ

د کتاب نوم: د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه
ژباړه: یحیی وردګ
خپرندوی: افغانیک
لومړی چاپ: ۱۳۷٦
دوهم چاپ: ۱۴۰۰
چاپ شمېر: ۳۰۰۰
ډانلوډ: www.afghanic.de

د غه کتاب د جي آی زیټ د سولې لپاره د مدني خدمتونو (GIZ-ZFD)
په مالي مرسته چاپ شوی دی.

© د نقل قول او کاپي کولو اجازه په هغه صورت کې شته،
چې منبع وښودل شي.

آی اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۳۳-۵۳-۷

د دوهم چاپ سریزه

څرنګه چې په دوهمه نړیواله جګړه کې په لویه پیمانه بشري حقونه تر پښو لاندې شول، د ملګرو ملتونو غړو هېوادونو په ۱۹۴۸زېږدیز کال د دسمبر په لسمه نېټه د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه[1] تصویب کړه، چې په راتلونکي کې د داسې جنایتونو مخنیوی وشي او بیا تکرار نه شي.

له دې مخکی هم د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو؛ لکه په پخواني فارس کې (له میلاده شپږ پېړۍ مخکې)، په امریکا کې (۱۷۷٦ز کال)، په فرانسه کې (۱۷۸۹ز کال) او په سویلي افریقا کې (۱۹۴۳ز کال) د بشري حقوقو اړوند اعلامیې لیکل شوي او خپرې شوې دي.

همداراز د اسلامي کنفرانس غړو هېوادونو په۱۹۹۰زېږیز کال په اسلام کې د بشري حقوقو د قاهرې اعلامیه (*إعلان القاهرة حول حقوق الإنسان في الإسلام*) خپره کړې ده.

---

[1] دغه اعلامیه په افغانستان کې د بشر د حقوقو نړیوالې اعلامیه په نامه یادېږي، حال دا چې په انګلیسي متن کې World یا نړیوال نه، بلکې Universal Declaration of Human Rights د Universe یعنی عالمي یا عمومي په نامه راغلې ده.

د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه یو آیډیال دی چې الزامي حقوقي منبع نه ده او تقریبا د نړۍ د ټولو هېوادونو له خوا منل شوې ده.
دغه اعلامیه دېرش مادې لري، چې د هر انسان بنسټیز حقوق پکې د قوم، پوستکي رنګ، جنسیت، ژبې، دین، سیاسي اړیکو، عقیدې، ټولنیز یا ملي اصلیت، پانګې او زوکړې له توپیر پرته ښودل شوي دي.
دغه سند له ۴٦۰ څخه زیاتو ژبو ته ژباړل شوی او په نړۍ کې خورا ډېر ژباړل شوی نړیوال مهم سند دی. د هر کال د دسمبر لسمه د بشري حقونو د ورځې په توګه په نړیواله کچه لمانځل کېږي.
موږ دغه مهمه اعلامیه ۲۴ کاله پخوا؛ په ۱۹۹۷ د لومړي ځل لپاره پښتو ته وژباړله چې د افغانیک د لومړۍ خپرونې په توګه خپره شوه.
څرنګه چې نن (۷۳ کاله وروسته) هم د دغې اعلامیې له خپرېدو وروسته ډېر خلک او ادارې له بشري حقونو څخه پوره خبر نه دي او دا حقوق سم نه مراعتېږي، نو له بیا کتنې وروسته یې یو ځل بیا ګرانو هېوادوالو ته وړاندې کوو.
هیله‌من یو چې په ښوونځیو، پوهنتونونو، فرهنګي کړیو، دولتي او غیر دولتي ادارو کې یې خلک له ځان سره ولري، ویې لولي، بحثونه پرې وکړي او په ورځنیو چارو کې یې مراعات کړي.

خدای دې وکړي چې له دې لارې مو د بشري حقونو په پېژندلو او په تېره بیا د بشر د حقونو په مراعاتولو کې ونډه اخیستې وي.
د جي آی زیټ د سولې لپاره د مدني ټولنې موسسې (GIZ-ZFD) او د هغې هڅاند مسوول عبیدالله تنها نه مننه کوم، چې د نورو مهمو کارونو او کتابونو د چاپولو تر څنګ یې په پښتو او دري ژبو د دغې اعلامیې د چاپ لګښت ورکړی دی.

یحیی وردګ

۲۰۲۱ ز

د لوی څښتن په نامه

دغه د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه د ۱۹۴۸ زېږدیز کال د دسمبر د میاشتې په لسمه نېټه د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصویب او اعلان شوه.

د دغې تاریخي پېښې په پای کې، غونډې له ټولو غړیو هېوادونو هیله وکړه چې د دغې اعلامیې د خپرېدو، وېشنې او خلکو ته د ورپېژندلو لپاره کار او کوښښ وکړي.

که څه هم د دغې اعلامیې له اعلانه څه کم ۵۰ کاله تېر شوي، خو خپل ارزښت او ورځنیتوب یې له لاسه نه دی ورکړی. څه نا څه هره ورځ د بشر د حقوقو د مراعات او یا هم د هغوی د تر پښو لاندې کولو په هکله خبرې کېږي، خو ټول افراد له دغې اعلامیې څخه پوره خبر نه دي او نه یې هم لوستلې ده. نو همدا علت و چې د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) یو کال مخکې تصمیم ونیو چې دغه مهم سند خپور کړي او له نېکه مرغه دا دی اوس د (۱۹۹۷ کال په اکتوبر) کې یې د خپلې لومړنۍ خپرونې په توګه درنو هېوادوالو ته وړاندې کړي.

ډاکتر یحیی وردګ

د افغانستان معلوماتي مرکز مشر

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه

سریزه

دا چې د بشري ټولنې د ټولو غړو انساني کرامت او د هغوی برابر نه خرڅېدونکي، ترې بېلېدونکي او له منځه وړونکي حقوق د آزادۍ، عدالت او د نړۍ د سولې بنسټ دی. د دې لپاره چې د بشر د حقوقو نه پېژندل او هغو ته په سپکه سترګه کتل د وحشت او بربریت د اعمالو د ترسره کېدو لامل شوي او د بشریت وجدان یې سخت ټپي کړی دی. دا چې د داسې یوې نړۍ جوړول چې په هغې کې، انسانان د وینا او عقیدې له آزادیه برخمن وي او بې له ډار او تنګسې ژوند وکړي، د بشریت د خورا لوړ هدف په توګه اعلان شوی دی.

د دې لپاره چې د بشر حقوق د حقوقي دولت د حاکمیت له لارې ساتل کېدای شي، چې په دې ډول خلک د ظلم او فشار پر وړاندې د وروستۍ وسیلې په حیث پاڅون ته مجبور نه شي.

د دې لپاره چې د بېلابېلو هېوادونو د ملتونو تر منځ د ملګرتیا د اړیکو وده او پراختیا ډېره مهمه ده، نو ځکه د ملګرو ملتونو د موسسې ولسونو د هغې په منشور کې د بشر د بنسټیزو حقونو، د بشري شخصیت په کرامت او ارزښت، د ښځو او نارینه‌وو په برابرو

حقونو باندې ټینګار او پرېکړه کړې، چې ټولنیز پرمختګ او د ژوندانه بهتره کچه د ډېرې آزادۍ په فضا کې منځته راوړي.
دا چې غړو هېوادونو ځانونه په دې مکلف کړي دي، چې له ملګرو ملتونو سره د ګډ کار په ترڅ کې د بشر د حقونو درناوی خپل نصب العین وګرځوي او بنسټیزو آزادیو ته د عمل جامې ور واغوندي او تطبیق یې کړي.
د دې لپاره چې په دې حقوقو او آزادیو باندې عمومي عقیده د دغو مکلفیتونو د بشپړ ترسراوي لپاره ډېره مهمه ده، نو د ملګرو ملتونو د موسسې عمومي غونډه د بشر د حقوقو عمومي اعلامیه د داسې آیډه‌ال په حیث، چې د نړۍ ټول ولسونه او ملتونه هغې ته رسېدل غواړي، خپره کړه، چې د ټولنې ټول او ځانګړي غړي دغه اعلامیه تل حاضره وبولي او هڅه وکړي، چې د ښوونې او روزنې له لارې دغو حقوقو او آزادیو ته په درنه سترګه کتل، عملي کول او په نړیواله کچه ساحه د دغو حقوقو او آزادیو عمومي او رښتیانی پېژندل کېدل، پخپله په غړیو هېوادونو او د هغو په تر لاس لاندې سیمو کې دغه حقوق او آزادي په عمومي ډول او رښتیا سره وپېژندل شي.

۱ ماده

ټول انسانان آزاد او له انساني کرامت او برابرو حقوقو سره زېږېدلي دي. دوی د عقل او وجدان خاوندان دي، نو باید د ورورګلوۍ په روحیې یو له بل سره مخامخ شي.

۲ ماده

هر څوک بې له هغه چې د هغوی نژاد، رنګ، جنسیت، ژبه، دین، سیاسي او یا نورې عقیدې، د هغو ملي او یا ټولنیز څرنګوالی، شتمنۍ، د زېږېدو په وخت کې د هغه وضع او موقعیت په پام کې ونیول شي، د هغو حقوقو او آزادیو ادعا درلودلی شي، چې په دې اعلامیه کې خپاره شوي دي.

سربیره پر دې له هېچا سره باید د هغه د ملک یا سیمې د سیاسي، اداري، قضایي یا نړیوال موقف پر بنسټ تبعیض ونه شي، که څه هم هغه ملک یا سیمه چې شخص ور پورې تړلی وي خپلواک، تر لاس لاندې، غیر مختار او یا یې حاکمیت په یو ډول محدود وي.

۳ ماده

هر څوک د ژوندانه، آزادۍ او ځاني امنیت حق لري.

۴ ماده

هېڅوک باید د مریي یا مینځې او یا په پیسو اخیستل شوي مزدور په حیث و نه ساتل شي، څوک خپل مریی کول د غلام او مینځې په حیث د انسانانو پېر او پلور، په هره بڼه چې وي منع دی.

۵ ماده

هېڅوک باید ونه کړول شي او یا په بېرحمۍ سره غیر انساني او له توپیره ډک سلوک ورسره ونه شي او دغسې سپکه سزا ورنه کړل شي.

٦ ماده

هر څوک هر چېرته د حقوقي شخصیت په حیث د پېژندلو حق لري، چې هر چېرته د حقوقو د لرلو لپاره د وړ شخص په حیث وپېژندل شي.

۷ ماده

د قانون په وړاندې ټول انسانان سره برابر دي او بې له کوم توپیره په برابر ډول د قانون له حمایې ګټه اخیستلی شي او ټول د تبعیض

د راپارول کېدو پر وړاندې، چې دغه اعلامیه تر پښو لاندې کوي، په برابر ډول د حمایې ادعا درلودلی شي.

۸ ماده

هر څوک د هغو د کړنو پر وړاندې، چې د هېواد د اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د ده بنسټیز حقوق تر پښو لاندې کوي، په هېواد کې دننه له صلاحیت لرونکو قضاوو څخه د اغېزناکې حقوقي مرستې د لاسته راوړلو حق لري.

۹ ماده

هېڅوک په خپل سر توقیف، بندي یا له هېواده تبعید کېدای نه شي.

۱۰ ماده

هر څوک په مساویانه ډول حق لري، چې دعوه یې د یوې بې طرفې او خپلواکې محکمې له خوا په ښکاره او منصفانه توګه تر غور لاندې ونیول شي او همداراز محکمه به د ده په حقوقو او وجایبو او هغه الزام (جزایي تور) په اړه چې په ده لګول شوي وي، لازمه پرېکړه کوي.

۱۱ ماده

الف: هر څوک چې په کوم جرم تورن شوی وي، تر هغو باید بې گناه وگڼل شي، تر هغو پورې یې چې جرم په داسې یوه ښکاره محاکمه کې د قانون پر اساس ثابت شوی نه وي، چې تورن پکې د خپلې دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمینونه ولري.

ب: هېڅوک د داسې اعمالو د ترسره کولو یا نه کولو په وجه محکومېدای نه شي، چې د اجرا کېدو په وخت کې د ملي یا نړیوال قانون پر وړاندې جرم نه شمېرل کېده. دغه راز هېڅوک د یوه جرم د کولو په وجه، له هغه سخته جزا نه ویني، چې د جرم د اجرا کېدو پر وخت د هغه جرم لپاره تعیین شوې وه.

۱۲ ماده

د هېچا په شخصي ژوندانه، کورنۍ، کور یا د لیکونو په لېږد رالېږد کې نه په خپل سر لاسوهنه او نه یې په نوم او حیثیت تېری کېدای شي. هر څوک د دې ډول تیرې یا مداخلې پر وړاندې د قانوني خوندیتوب حق لري.

۱۳ ماده

الف: هر څوک حق لري چې په یوه هېواد کې آزاد وګرځي او ځانته پخپله خوښه د اوسېدو ځای وټاکي.

ب: هر څوک د دې حق لري چې له هر هېواده د خپل هېواد په شمول ووځي او خپل هېواد ته بېرته ستون شي.

۱۴ ماده

الف: هر څوک حق لري چې د تعقیب له لاسه په نورو هېوادونو کې پناه وغواړي او تر لاسه یې کړي.

ب: له دغه حقه په هغه وخت کې ګټه نه شي اخیستل کېدای، چې که تعقیب د غیر سیاسي جرم او یا د داسې اعمالو د ترسره کولو په وجه جاري وي، چې د ملګرو ملتونو له اهدافو او اصولو سره مغایرت ولري.

۱۵ ماده

الف: هر څوک د یو هېواد د تابعیت حق لري.

ب: له هېچا نه د هغه تابعیت په خپل سر او زور اخیستل کېدای نه شي، همداراز له هېچا نه په خپل تابعیت کې د بدلون راوستلو حق هم نه شي اخیستل کېدای.

١٦ ماده

الف: ښځې او نارینه چې د واده کولو عمر ته رسېدلي وي، بې له نژاد، تابعیت او یا د دیني محدودیتونو په پام کې نیولو سره واده کولای او د یوې کورنۍ بنسټ ایښودلی شي. دوی د واده پر وخت، د ښځې‌والي او مېړه‌توب په اوږدو او یا د طلاق په وخت کې برابر حقوق لري.

ب: یوازې د ښځې او نارینه په بشپړې او آزادې موافقې سره د واده کولو اجازه شته.

ج: کورنۍ د ټولنې طبیعي او بنیادي جز دی او حق لري، چې د دولت او ټولنې له خوا وساتل شي.

١٧ ماده

الف: هر څوک یوازې او یا له نورو سره په ګډه د ملکیت حق لري.

ب: د هېچا ملکیت په خپل سرۍ او زور سره اخیستل کېدای نه شي.

۱۸ماده

هر انسان د افکارو، وجدان او دین په ټاکلو کې آزادي لري، په دې حق کې دا هم شامل دي، چې یو څوک د یو دین پر ځای بل دین او د یو نړۍ لید پر ځای یو بل منلی شي. همداراز د دې آزادي لري چې خپل دین او نړۍ لید یوازې او یا له نورو سره په ګډه، په ښکاره توګه او یا په خصوصي ډول د تدریس، د هغوی مطابق له عمل کولو، عبادت او یا دیني رواجونو ته د درناوي له لارې وښیي.

۱۹ ماده

هر څوک د فکر او د خپلې مفکورې د څرګندولو آزادي لري، په دې حق کې د مفکورې آزادي هم شامله ده، چې د سرحدونو په پام کې نیولو پرته معلومات او مفکورې په هره وسیله چې وي پیدا، تر لاسه او خپرې کړي.

۲۰ ماده

الف: هر څوک د سوله‌ییزو اهدافو لپاره د راغونډېدو او اتحادیو حق لري.

ب: هېڅوک په یوې اتحادیې پورې تعلق لرلو ته نه شي مجبورېدای.

۲۱ ماده

الف: هر څوک د دې حق لري چې د خپل هېواد په عامو مسایلو کې په مخامخ ډول او یا دا چې د نماینده د ټاکلو له لارې برخه واخلي.

ب: هر څوک تر یو شان شرایطو لاندې د خپل هېواد دولتي ادارو ته د تلو او مقررېدو حق لري.

ج: د حکومت د قدرت اساس او منشا د خلکو اراده ګڼل کېږي، دغه اراده باید د انتخاباتو له لارې څرګنده شي، چې صادقانه او دوامداره صورت ومومي. انتخابات باید عمومي او د بشپړ مساواتو په رعایت سره وي او د پټو رایو او هغوی ته ورته ډول باندې صورت ونیسي، چې د رایې آزادي پکې تامین شي.

۲۲ ماده

هر وګړی د خپلې ټولنې د غړي په توګه د ټولنیز امنیت حق لري او مجاز ده، چې د خپلو ملي هڅو او نړیوالو همکاریو له لارې خپل اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقوق چې د ده د شخصیت د آزادانه ودې او مقام لپاره لازم بلل کېږي، د هر هېواد د منابعو او تشکیلاتو په رعایت سره تر لاسه کړي.

۲۳ ماده

الف: هر څوک حق لري چې کار وکړي او خپل کار آزادانه وټاکي، د خپلې خوښې او منصفانه شرایط د ځان لپاره وغواړي او د وزګارتیا پر وړاندې یې ملاتړ وشي.

ب: ټول حق لري چې له کوم تبعیض پرته د مساوي کار په مقابل کې مساوي اجوره تر لاسه کړي.

ج: هر څوک چې کار کوي د منصفانه او رضایت ښوونکي مزد مستحق دي، چې د ده د ژوند او د ده د کورني ژوند د بشري کرامت مطابق تامین کړي او هغه د هر ډول نورو ټولنیزو وسایلو له ملاتړه بشپړوي.

د: هر څوک د خپلو علاقو د ساتلو لپاره د کارګرې ټولنې د جوړولو او په هغوی کې د شاملېدو حق لري.

۲۴ ماده

هر څوک د کار د وخت د مناسب محدودیت او د معاش لرونکو نوبتي رخصتیو په شمول حق لري، چې استراحت او تفریح وکړي.

۲۵ ماده

الف: هر څوک د ژوندانه د داسې معیار درلودلو حق لري، چې ده او د ده کورنۍ ته روغتیا او هوساینه او د همدغسې خوراک، پوشاک، کور، د روغتیا پالنې او اړین ټولنیز خدمات برابر کړي. دغه شخص د وزګارېدو، ناروغېدو، معیوبېدو، کونډېدو، بوډاوالي او یا د داسې شرایطو له امله چې خپله ګناه یې پکې نه وي، د عاید د له لاسه ورکولو په صورت کې د ډاډ او تضمین درلودلو حق لري.

ب: مور او ماشوم د ځانګړې پاملرنې او مرستې مستحق دي. ټول ماشومان که د واده او یا له واده پرته پیدا شوي وي، د مساوي ټولنیز ملاتړ حق لري.

۲٦ ماده

الف: هر څوک د ښوونې او روزنې حق لري، ښوونه او روزنه باید لږ تر لږه په ابتدایي او لومړنیو پړاوونو کې وړیا وي. لومړنۍ زده‌کړې باید حتمي او اجباري وي. د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو د ښوونځیو دروازې باید د ټولو پرمخ پرانیستې وي. لوړې زده‌کړې باید د ټولو پر مخ د استعداد او لیاقت پر اساس خلاصې وي.

ب: ښوونه او روزنه باید د انساني شخصیت د بشپړ غوړېدو او د بشر حقوقو او بنسټیزو آزادیو ته د درناوي هدف ولري. ښوونه او روزنه

باید د ټولو ملیتونو، نژادونو او دیني ډلو په منځ کې تفاهم، زغم او دوستي منځته راوړي، پیاوړې یې کړي او د سولې په لاره کې د ملګرو ملتونو د موسسې د فعالیتونو ملاتړ وکړي.
ج: میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د زده‌کړې د بڼې او څرنګوالي د ټاکلو په برخه کې لومړی حق لري.

۲۷ ماده

الف: هر څوک حق لري چې د یوې ټولنې په کلتوري ژوندانه کې آزاده برخه واخلي، له هنرونو څخه خوند واخلي او د علمي پرمختګونو او د هغوی په ګټورو نتایجو کې د برخې درلودلو حق ولري.
ب: هر څوک د خپلو هغو معنوي او مادي ګټو د ساتنې حق لري، چې د ده په ذریعه له هر علمي، ادبي او یا هنري تخلیق څخه پیدا شوي وي.

۲۸ ماده

هر څوک په داسې ټولنیز او نړیوال نظام کې ژوند وکړي، چې په دې اعلامیه کې یاد شوي حقوق او آزادۍ په بشپړ ډول عملي شي.

۲۹ ماده

الف: هر څوک په هغې ټولنه کې مکلفیتونه لري، چې هلته د ده د شخصیت آزاده او بشپړه وده ممکنه وي.

ب: هر څوک د خپلو حقوقو او آزادیو په عملي کولو کې یوازې د هغو محدودیتونو تابع وي، چې د قانون په ذریعه صرف د دې لپاره تعیین شوي وي، چې د نورو د آزادیو او حقوقو په مناسب ډول درناوی وشي، وپېژندل شي او په یوه ډیموکراتیکه ټولنه کې د اخلاقي موازینو د غوښتنو، عامه نظم او هوسانیې مراعات وشي.

ج: له دغو حقوقو او آزادیو څخه باید په هېڅ صورت د ملګرو ملتونو د اصولو او مقاصدو پر خلاف ګټه پورته نه شي.

۳۰ ماده

په دې اعلامیه کې هېڅ یو بند یا ماده باید داسې تعبیر نه شي، چې کوم دولت، ډلې یا شخص ته د دې حق ورکړل چې په داسې فعالیت لاس پورې کړي یا داسې کار وکړي، چې هدف یې په دې اعلامیه کې د یادو شویو حقوقو او آزادیو لغوه کول او له منځه وړل وي.

Afghanic e.V. افغانیک

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) د هېوادوالو، ټولنو او بهرنیو خلکو لپاره د افغانانو او افغانستان په هکله معلومات وړاندې کوي. افغانیک د آلمان له اداري محکمې سره رسما ثبت شوې غیر انتفاعي موسسه ده، چې د یو شمېر افغانانو او آلمانیانو لخوا جوړه او په آلمان او افغانستان کې کار او فعالیت کوي. هدف یې په افغانستان کې د پرمختیا، پوهنې، لوړو زده‌کړو او د روغتیا په برخو کې مرسته او هم په آلمان کې له افغانانو سره مرسته او د افغاني کلتور پالل دي.

د افغانیک هلو ځلو څو نمونې:

- د افغانستان د پوهنتونو لپاره تر ۳۴۲ زیاتو درسي کتابونو چاپول

www.ecampus-afghanistan.org / www.kitabona.com ↖

- د کابل دیوان بیگي سیمه کې یو کلینیک ↖ www.dewanbegi.af

- تر ۳۰ زیات نور ادبي، حقوقي او کلتوري کتابونه په آلمان او افغانستان کې چاپ شوي دي.

نور معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: ↖ www.afghanic.de

Preface

As human rights were severely violated in the Second World War, United Nation member countries ratify the General Declaration of Human Rights on 10. December of 1948 to prevent such crimes in the future.

Most of the countries have already published some declarations related to human rights such as former Persia (6th century B.C.), America (1776), France (1789), and South Africa (1943). Moreover, in the year 1990, the member countries of the Islamic conference have also published the declaration in Islam with the name of "Qahera Declaration of Human Rights in Islam".

The General Declaration of Human Rights is an Ideal, not a mandatory and legal source that is almost accepted by all countries of the world.

This declaration has 30 articles which include the fundamental rights of every human being, regardless of ethnicity, skin color, gender, language, religion, political and other believes, social and national origin, capital and birth differences. This declaration has been translated into more than 460 languages, and it is one

of the most translated international essential documents in the world.

10th of December of each year is considered as Human Rights Day and is celebrated internationally.

As of today (after 73 years) a lot of people and organizations are neither aware of these human rights nor following them, therefore, we are going to provide these human rights codes to our country citizens one more time.

We hope every school, university, cultural circles, and government or non-government organization receive this declaration, read them, have discussions regarding them, and finally practice them in their daily life routine.

Through this way, we are very hopeful of our positive contribution toward the people's understanding of these human rights and more importantly practicing these rights within their societies.

We are very thankful to the Peace Civil Society of ZFD-GIZ in Afghanistan and its Head Mr. Obaidullah Tanha for providing financial support regarding the printing of this human rights declaration in Pashto and Dari languages besides his other essential work and print-related support.

Yahya Wardak, March 2021

Book Details

Book Title	Universal Declaration of Human Rights
Translator	Yahya Wardak
Publisher	Afghanic
Copies	3000
Printed	2021, Second
Download	www.afghanic.de/downloads

This publication was financed by
Civil Peace Service (ZFD) of GIZ in Kabul

© 2021 CC BY NC ND

This book can be reprinted with written permission
of the publisher or Translator.

Printed in Afghanistan

ISBN 978-9936-633-53-7